پوهنمل دکتور محمد بلال (امين)

شرعياتو پوهنځي, اسلامي ثقافت استاد

تقريظ ورکونکي: پوهنوال فاروق الله خالقيار او پوهندوي دکتور محمد ابراهيم حنيف، دشرعياتو پوهنځي استادان.

# په مجلس کې راتلونکي شخص لپاره د پاڅېدو حکم

**لنډيز**

مجلس کې راتلونکي لپاره د پاڅېدو موضوع يو له هغه ټولنيزو موضوعاتو څخه ده چې ډير نبوي احاديث يې په هکله راغلي دي او علماء کرامو په فقهي کتابونو کې د (آدابو) تر عنوان لاندې يادونه ترې کړې, امام نووي په دې کې يوه ځانګړې څېړنه هم ترسره کړې, ددي څيړني داهدافو څخه داده چې په ټولنه کې يې په اړه افراط او تفريط شتون لري, نو په څېړنه کې مجلس ته راتلونکي شخص لپاره د پاڅېدو احکام او روا او ناروا صورتونه بيان شوي دي, تر څو موجوده افراط او تفريط لمنځه لاړشی. مجلس کې راتلونکي لپاره د پاڅېدو موضوع کې د علماوو ډيرې څرګندوني پخوا او معاصر وخت کې شوي دی او په اړه يې ډير جرو بحث شوی دي، چې ما يې لنډيز په دوه قولونو کې رالنډ کړی دی. جمهور علماء پر دې نظر دي چې مجلس ته راننوتونکي ته پاڅېدل جائز دي، بلکې ځينو يي په بعضو حالتو کې مستحب ګڼلی او د دې لپاره يې په احاديثو, د صحابه کرامو او سلفو په کړنو استدلال کړی دی. ځيني نور بيا پر دې نظر دي چې مجلس کې راتلونکي لپاره پاځېدل نه دي جائز او د دې لپاره يې هم په احاديثو او د صحابه وو په کړنو استدلال کړی دی. د دې دواړه قولونو او دلائلو تر ذکر کولو وروسته مې د جمهورو نظر غوره بللی دی او دا يادونه شوې چې د دويم قول دلائل چې د منع په اړه راغلي دي پر هغه صورت حمل دي چې هغه ناست وي او خلک ورته ولاړ وي.ددې ترڅنګ مې په دې څېړنه کې د علمي ليکني اصول او کړنلارې په پام کې نيولي، دقرآني آيتونو حوالي مې دشميري په ذکر کولو سره خپلو سورتونو ته کړي دی، په ليکنه کې راغلي احاديث مې تخريج کړي او د صحيحينو پرته د نورو په اړه مي حکم ذکر کړی دی، فقهي مسائل مې د اصلي مصادرو څخه توثيق کړي او هر قول مې ويونکي ته منسوب کړی دی.

**کليدي کلمې:** مجلس، راتلونکی، پاځيدل، حديث.، مستحب، جائز، حرام، احترام، تعظيم .

**سريزه**

الحمد لله رب العلمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

دا ټولو ته جوته ده چې د اسلام دين پوره او د مسلمان د ژوند ټولو خواوو ته شامل دی، الله تعالي فرمايي:﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِىْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ).( دالمائدة سورت ۳آيت).

ژباړه: (نن ورځ ما پوره او تکميل کړ ستاسو لپاره دين ستاسې، او پوره مې کړ په تاسې نعمت خپل، او غوره کړی مي دی اسلام ستاسی لپاره ددين په توګه).

پر همدې اساس مسلمان ته پکار دي چې د هغه ټول ژوند او کار د شريعت د اصولو سره سم وي، تر څو د دواړو جهانو کاميابي او نيکمرغي يې په برخه شي، چې په دې برخه کې هغه ټولنيز آداب هم راځي چې موږ ته نبي صلى الله عليه وسلم راښودلي دي، لکه د کور څخه د وتلو او ننوتلو آداب او دمجلس آداب ، چې ددی جملې څخه يې مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو مسئله هم ده, چې له پخوا راهيسې يې په اړه ډير جرو بحث شوی، چې په دې څېړنه کې پرې رڼا اچول کيږي, تر څو روا او ناروا صورتونه پکې څرګند شي –ان شاء الله-.

**د څېړنې ستونزه**

مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو په مسئله کې د مسلمانانو تر منځ افراط او تفریط رامنځته شوی، ځیني خلک په دې نظر دي چې که یو څوک مجلس ته داخل شي او نور ورته ونه دریږي، نو په کبر او غرور یې تورنوي او بل لوري ته بیا ځیني پر دې نظر دي, چې نېکانو، مشرانو او علماوو ته ددرناوي په خاطر پاڅېدل هم ناروا ګڼي،چې دا څېړنه به دغه ستونزه حل کړي او په دې برخه کې به روا له ناروا څخه جلا کړي.

**د لیکنې موخې**

د دې لیکنې موخې په لاندې ډول دي:

١ـ مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو احکام او روا او ناروا صورتونه یې بیانول.

٢ـ په دې مسئله کې راپیدا شوی افراط او تفریط لمنځه وړل.

٣ـ مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو له مسئلې څخه راپیدا شوي ناوړه خویونه روښانه کول.

٤ـ په مطلق ډول ناروا ګڼونکو د شبهاتو څخه ځواب کول.

**د لیکنې ارزښت**

د دې لیکنې ارزښت له دې څرګندیږي چې مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو مسئلې په اړه مختلف احادیث راغلي دي او د هغې په معنی او مفهوم کې د خلکو ذهنونه سره متفاوت دي، چې د دې په سبب له یو بل سره بغض او کینې هم پیدا شوي او دوی پر دې نه دي پوهه چې دا یوه اجتهادي مسئله ده او په اصول فقه کې دا ثابته قاعده ده چې ((په اجتهادي مسائلو کې پر یو بل نیوکه نه وي))[1] پر دې معنی چې کله په یوه مسئله کې بېلابېل دلائل شتون ولري چې په معنی او مفهوم کې یې د خلکو ذهنونه سره مختلف وي، نو یو عالم ته پکار دي چې د خپل فهم او اجتهاد سره سم حکم یې بیان کړي.

**پخوانیو لیکنو ته کتنه**

مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو مسئلې کې له پخوا راهیسې فقهاوو په خپلو کتابونو کې ځای ورکړی دي او په فقهي کتابونو کې یې د (آدابو) تر عنوان لاندې یادونه ترې کړې, امام نووي په دې کې یوه ځانګړې څېړنه د (الترخيص بالقيام لذوي الفضل والمزية من أهل الإسلام) په نوم ترسره کړې ده او په دغه څېړنه کې یې د محدثینو منهج خپل کړی او احادیث یې په خپل سند سره تر مؤلفینو رسولي، د هغې پر سندونو یې خبرې کړي او د هغې ځینې فوائد یې ذکر کړي دي، همدا راز په اوسني وخت کې هم راتلونکې لپاره د پاڅېدو د ځینو صورتونو اړوند فتوې شتون لري، خو دا ټول په کمي او کیفي شکل د دې څېړنې سره توپیر لري، سربېره پر دې هغه ټولې لیکنې په عربي ژبه او دا څېړنه په پښتو ژبه ترسره کېږي.

**د څېړنې اړوند پوښتنې**

په دې څېړنه کې د لاندې پوښتنو د ځوابولو هڅه شوې.

١ـ مجلس ته راتلونکي ته پاڅېدل څه حکم لري؟

٢ـ که یو شخص مجلس ته راشي او بل ورته ونه دریږي، نو آیا بې ادبه ګڼل کېږي او که نه؟ او همدا راز که یو څوک پاڅېږي نو هغه ګناهګار دی او که نه؟

٣ـ په نه پاڅېدلو باندې کوم زیانونه مرتب دي؟

٤ـ مجلس ته راتلونکي ته د پاڅېدو او نه پاڅېدو په اړه د خلکو عادتونه معتبر دي او که نه؟

**د څېړنې مواد او کړنلاره**

دا لیکنه کتابتوني او تحلیلي لیکنه ده, چې تر ډېره حده پکې دنبوي احادیثو، فقهي معتبرو سرچینو،او معاصرو فتواوو څخه لازم مواد راغونډ شوي دي، او د یوې علمي مقالې د لیکنې

---

[1] محمد الأمين بن المختار الشنيقيطي (ـــ) مذكرة أصول الفقه، بيروت، لبنان, دار القلم, ص158.

ټول اصول او مقررات پکې په پام کې نيول شوي. تر هر آيت وروسته مې د سورت نوم او د آيت شمېره ليکلې.احاديث مې د اصلي مصادرو څخه تخريج کړي، له صحيحينو پرته د نورو د صحت او ضعف درجه مې هم ذکر کړې ده. فقهي مسائل مې د اصلي مصادرو څخه توثيق کړي او هر نظر او رايه مې خپل ويونکي ته منسوب کړې ده. د مصادرو توثيق مې د صفحې په لمنليک کې د وزارت د لائحې موافق ليکلي دي.

**مجلس ته راتلونکي لپاره د پاڅېدو حکم**

قيام دېته ويل کېږي چې يو مجلس، کوټې، دفتر، ټولګي، غونډې او يا نورو ته د راتلونکي شخص د راتلو پر مهال حاضر خلک ودرېږي.

په دې مسئله کې په پخوا او اوس وخت کې فقهاوو اختلاف کړی دی چې دا کار روا دی او که ناروا؟ او آيا د ځينو خلکو په حق کې جائز او د نورو په حق کې ناروا دی؟ او داسې نور نظرونه هم پکې شتون لري چې په دې څېړنه کې يې نظرونه په لنډه توګه په دوه قولونو کې راڅلنډوو:

**لومړی قول:** مجلس ته راتلونکي لپاره پاڅېدل جائز دي، کله چې ورسره روغبړ کوي، يا له سفر څخه راغلی وي، يا د ښه راغلاست لپاره وي، يا د مبارکۍ، تعزيې، د کمزوري د مرستې لپاره وي، همدا راز پلار ته د زوی، مېړه ته د ښځې او بالعکس هم جائز دی، همدا راز د يو سړي عادل بادشاه، عالم، پرهېزګار او د ښه خاندان والا ته پاڅېدل, دا ټول جائز دي, دا د جمهورو فقهاوو نظر دی[1].

امام نووي رحمه الله ويلي دي : ( دا قول په خپل وخت کې د حديثو، فقهې او زهد له امامانو څخه نقل شوي دي, چې د دوی له جملې څخه: ايوب بن أبي تميمة سختياني تابعي، وکيع بن الجراح تبع التابعي، احمد بن حنبل الشيباني مشهور امام، ابو نصر بشر بن الحارث الحافي، مسلم بن الحجاج النيسابوري، ابو زرعة الرازي، ابو داود السجستاني، ابو سليمان حمد بن محمد الخطابي، أبو عبدالرحمن السلمي، أبو محمد الحسين بن مسعود البغوي، احمد بن الحسين بيهقي، احمد بن علي الخطيب البغدادي او داسې نور دي)[2].

**دوی په لاندينيو دلائلو استدلال کوي:**

١_ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ أُنَاسًا نَزَلُوا عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ، فَلَمَّا بَلَغَ قَرِيبًا مِنَ المَسْجِدِ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُومُوا إِلَى خَيْرِكُمْ، أَوْ سَيِّدِكُمْ»[3].

ژباړه: له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې ځينې خلک(بنو قريظه) د سعد بن معاذ په حکم باندې راکوز (راضي) شول، نو نبي صلی الله عليه وسلم په هغه پسې استازی ولېږه او هغه پر خره باندې سپور راغی، کله چې جومات ته نږدې راورسېد، نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: (خپل غوره شخص يا مشر ته پاڅېږئ).

امام نووي رحمه الله ويلي دي: پر دې حديث باندې محدثينو او فقهاوو د پاڅېدو د جواز لپاره استدلال کړی دی[4].

---

(1 ) يحيی بن شرف بن مري محيي الدين ابو زکريا النووي، (١٩٨٢م). الترخيص بالقيام لذوي الفضل والمزية من أهل الاسلام، تحقيق: احمد راتب حموش، لومړی چاپ، دمشق, دار الفکر، ص ٣٤- ٣٩؛ محمد بن مفلح شمس الدين ابو عبد الله المقدسي الحنبلي، (٢٠٠٩م). الآداب الشرعية والمنح المرعية، دريم چاپ، کويت، دار احياء التراث العربي، ج١ ص ٤٠٤؛ عبدالسلام بن برجس آل عبدالکريم، (ـــ). احکام السلام، مکتبة الشاملة، ص ٦-٩.

(2) الترخيص بالقيام, ص ٥١، ٥٢؛ الآداب الشرعية، ١/٤٠٥، ٤٠٦.

(3) محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة الجعفي, البخاري، (١٤٢٢هـ). صحيح البخاري، لومړی چاپ، رياض، دار طوق النجاة، 5/ 35، رقم: ٣٨٠٤.

(4) الترخيص بالقيام، ص ٣٨.

امام مسلم نیسابوري رحمه الله ويلي دي: (يو سړي ته د بل د پاڅېدو په اړه تر دې ډېر صحيح حديث ما ته نه دی معلوم) بيا وايي: (دا پاڅېدل د نېکۍ په موخه دي، نه د تعظيم په موخه) [1].
امام خطابي او بغوي رحمه الله ويلي دي: (په دې حديث کې دليل دی چې د غوره مشر او عادل والي لپاره د يو شخص پاڅېدل او يا عالم ته د زده کوونکي پاڅېدل مکروه نه، بلکې مستحب دي او کراهت د هغه چا په حق کې دی چې د دې صفاتو څخه خلاف وي)[2].
٢_ عن كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ في حديث توبته الطويل المشهور، قَالَ كَعْبٌ(( ... وانطلقت إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم حَتَّى دَخَلْتُ المَسْجِدَ، فَإِذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ حَوْلَهُ النَّاسُ، فَقَامَ إِلَيَّ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ يُهَرْوِلُ حَتَّى صَافَحَنِي وَهَنَّانِي، وَاللَّهِ مَا قَامَ إِلَيَّ رَجُلٌ مِنَ المُهَاجِرِينَ غَيْرَهُ، وَلاَ أَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ[3].
ژباړه: له کعب بن مالک رضي الله عنه څخه د هغه د توبې په هکله اوږد او مشهور حديث په ترڅ کې روايت شوي دي چې کعب وايي: د رسول صلی الله علیه وسلم په لوري روان شوم تر دې چې زه مسجد ته ننوتلم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد کې ناست وو او خوا ته يې خلک وو، نو ما ته طلحة بن عبيد الله پاڅېد چې رامنډه يې کړه، تر دې چې ما سره يې ستړي مشي وکړه اودتوبې قبليدو مبارکي يې راکړه، او پر الله قسم چې ما ته په مهاجرينو کې له دې پرته هيڅوک نه دی راپاڅېدلی او زه به د طلحه دا ښېګڼه هيڅکله هېره نه کړم.
د حديث څخه د استدلال وجه : نبي کريم صلی الله علیه وسلم د طلحة بن عبيد الله دا کړنه تثبيت کړه, چې کعب بن مالک ته پاڅېد او هغه ته يې د الله تعالی له لوري د هغه د توبې د قبلېدو زېرى ورکړ، دا دليل دی چې داسې کار جائز دی[4] .
د تعزيې پر مهال پاڅېدل هم همدا حکم لري، ځکه که د ډېرې خوشحالۍ پر مهال پاڅېدل جائز دي، نو د ډېر غم پر مهال خو په اولی طريقه جائز دي[5].
٣_ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رضي الله عنها، قَالَتْ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَشْبَهَ سَمْتًا وَدَلًّا وَهَدْيًا بِرَسُولِ اللَّهِ فِي قِيَامِهَا وَقُعُودِهَا مِنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» قَالَتْ: «وَكَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ إِلَيْهَا فَقَبَّلَهَا وَأَجْلَسَهَا فِي مَجْلِسِهِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا قَامَتْ مِنْ مَجْلِسِهَا فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِي مَجْلِسِهَا[6].
ژباړه: د ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي: (ما په خوی، اخلاقو او ناسته ولاړه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د فاطمې رضي الله عنها څخه ډېر ورته شخص نه دی ليدلی) وايي: (کله چې به فاطمة د نبي صلی الله علیه وسلم خوا ته راغله نو هغه به ورته پاڅېده او ښکل به يې کړه او خپل د ناستې په ځای کې به يې کېنوله او نبي صلی الله علیه وسلم به چې کله د هغې کور ته ورغی نو هغه به ورته خپل د ناستې ځای څخه پاڅېده، نبي صلی الله علیه وسلم به يې ښکل کړ او خپل د ناستې په ځای کې به يې کېناوه).
د حديث څخه د استدلال طريقه:

(1) مخکنئ مرجع، ص ٣٨.
(2) حمد بن محمد الخطابي، (١٩٣٢). معالم السنن، لومړی چاپ، حلب، المطبعة العلمية، ١٠/٣.
(3) صحيح البخاري, 6/ 6، رقم: ٤٤١٨.
(4) احكام السلام، ص ٧.
(5)مخکنئ مرجع ,ص٧.
(6) محمد بن عيسى بن سورة, ابو عيسى الترمذي، (١٣٩٥هـ). سنن الترمذي، تحقيق: احمد محمد شاكر او نور، دويم چاپ، مصر، مطبعة مصطفى الحلبي، 5/ 700، رقم: ٣٨٧٢). ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دی او نووي وايي: صحيح دی.

دا حدیث پر دې ښکاره دلیل دی چې زوی یا لورکولای شي خپل پلار ته پاڅېږي او همدا راز بالعکس او د پلار په حکم کې مور، تره، ماما او ترور هم دي[1].

٤_ وعن عائشة رضي الله عنها في حديث طويل في قصة الإفك ((...«يَا عَائِشَةُ احْمَدِي اللَّهَ، فَقَدْ بَرَّأَكِ اللَّهُ»، فَقَالَتْ لِي أُمِّي: قُومِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: لاَ وَاللَّهِ، لاَ أَقُومُ إِلَيْهِ، وَلاَ أَحْمَدُ إِلَّا اللَّهَ)) [2].

ژباړه: له عائشې رضي الله عنها څخه د افک(ددروغو) قصې اوږد حدیث په ترځ کې روایت کړي دی, چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ( ای عائشې د الله عزوجل حمد وایه, ځکه هغه ستا برائت نازل کړ)، نو مور مې راته وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پاڅېږه، ما ورته وویل: نه پر الله قسم که ورته پاڅېږم او یوازې د الله عزوجل حمد به وایم)).

د استدلال وجه : نبي صلی الله علیه وسلم د عائشې رضي الله عنها د مور دا خبره چې هغې ته یې د پاڅېدو امر وکړ، پر ځای پرېښوده او رد یې پرې ونه کړ، دا دلیل شو چې یو چا ته پاڅېدل جائز دي.

٥_ عن عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ السَّائِبِ، حَدَّثَهُ أَنَّهُ بَلَغَهُ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ جَالِسًا فَأَقْبَلَ أَبُوهُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، فَوَضَعَ لَهُ بَعْضَ ثَوْبِهِ، فَقَعَدَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَقْبَلَتْ أُمُّهُ مِنَ الرَّضَاعَةِ فَوَضَعَ لَهَا شِقَّ ثَوْبِهِ مِنْ جَانِبِهِ الْآخَرِ، فَجَلَسَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَقْبَلَ أَخُوهُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، فَقَامَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْلَسَهُ بَيْنَ يَدَيْهِ»[3].

ژباړه: له عمرو بن الحارث څخه روایت دی چې عمرو بن السائب ورته حدیث بیان کړی دی چې ده ته له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه رارسېدلي دي چې یوه ورځ ناست وو، نو رضاعي پلار یې راغی، نبي صلی الله علیه وسلم ورته د خپل څادر یوه برخه وغوړوله او پرې کېناست، بیا یې مور راغله، نو هغې ته یې د خپل څادر بله برخه وغوړوله او هغه هم پرې کېناست، بیا یې رضاعي ورور راغی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې مخې ته کېناوه.

٦_ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ أُمَّ حَكِيمٍ بِنْتَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، وَكَانَتْ تَحْتَ عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِي جَهْلٍ، فَأَسْلَمَتْ يَوْمَ الْفَتْحِ وَهَرَبَ زَوْجُهَا عِكْرِمَةُ بْنُ أَبِي جَهْلٍ مِنَ الْإِسْلَامِ حَتَّى قَدِمَ الْيَمَنَ فَارْتَحَلَتْ أُمُّ حَكِيمٍ حَتَّى قَدِمَتْ عَلَيْهِ بِالْيَمَنِ فَدَعَتْهُ إِلَى الإِسْلَامِ فَأَسْلَمَ، وَقَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «وَثَبَ إِلَيْهِ فَرِحًا، وَمَا عَلَيْهِ رِدَاءٌ حَتَّى بَايَعَهُ فَثَبَتَا عَلَى نِكَاحِهِمَا ذَلِكَ»[4].

ژباړه: له ابن شهاب زهري څخه روایت دی چې ام حکیم د حارث بن هشام لور د ابو جهل د زوی عکرمة په نکاح کې وه، دې ښځې یې د مکې د فتحې په ورځ اسلام راوړ او مېړه یې (عکرمة د ابو جهل زوی) له اسلام څخه وتښتېد، تر دې چې یمن ته ورسید، ام حکیم هم ورپسې لاړه تر دې چې یمن ته ورغله او د اسلام دعوت یې ورکړ، نو هغه مسلمان شو او د مکې د فتحې په کال نبي صلی الله علیه وسلم ته راغی، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده،(نو د ډېرې خوشحالۍ نه یې ورته ورټوپ وکړ او پر ده باندې څادر هم نه وو، تر دې چې بیعت یې ورسره وکړ او دواړه په هماغه نکاح باندې پاتې شول).

---

(1)احکام السلام، ص 8.

(2) صحيح البخاري، (٣٠٦/٨، رقم: ٤٧٥٠).

(3) سليمان بن الاشعث بن شداد الازدي السجستاني، (ـــ). سنن أبي داود، تحقيق: محمد محيي الدين عبدالحميد، بيروت، المكتبة العصرية، ٣٣٧/٤، رقم: ٥١٤٥. دا حدیث ابو داود مرسل روایت کړی دی، خو نووي وایي: په دې مسئله کې پدی باندی استدلال صحیح دی، ځکه چې ډېر فقهاء په مرسل حدیث باندې د استدلال د جواز قائل دي.الترخيص بالقيام، ص ٤٥.

(4) مالک بن انس بن مالک بن عامر الاصبحي المدني، (١٤٠٦هـ). موطا الامام مالک، تحقیق: محمد فؤاد عبدالباقي، بيروت، دار احياء التراث العربي، ٥٤٥/٢، رقم: ٤٦,دموطأ محقق وايي: دا حديث مرسل دي .

د استدلال وجه: په دې دواړو تېرو شویو حدیثونو کې راتلونکي ته د پاڅېدو د جواز لپاره ښکاره دلیل دی، ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم خپل رضاعي ورور او عکرمة بن ابي جهل ته پاڅېدلی دی.

٧_ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ المَدِينَةَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَيْتِي فَأَتَاهُ فَقَرَعَ البَابَ، فَقَامَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَنَقَهُ وَقَبَّلَهُ»(1).

ژباړه: له عائشې رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: ((زید بن حارثة مدینې ته راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم زما په کور کې وو، نو هغه د نبي صلی الله علیه وسلم خوا ته راغی او دروازه یې وټکوله، نبي صلی الله علیه وسلم ورته پاڅېده ، غاړه یې ورکړه او ښکل یې کړ)).

د استدلال وجه : دا حدیث ښکاره دلیل دی چې د سفر څخه راتلونکي ته پاڅېدل او ښکلول یې جائز دي.

٨_ عن أَبي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْلِسُ مَعَنَا فِي الْمَجْلِسِ يُحَدِّثُنَا، فَإِذَا قَامَ قُمْنَا قِيَامًا حَتَّى نَرَاهُ قَدْ دَخَلَ بَعْضَ بُيُوتِ أَزْوَاجِهِ. (2).

ژباړه: له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم به له موږ سره په مجلس کې ناست وو او موږ ته به یې خبرې کولې، کله چې به هغه پاڅېده نو موږ به هم ورسره پاڅېدو تر دې چې موږ به ولیده چې خپلو ببیانو یوې خونې ته به ننوتلو.

له دې حدیث څخه څرګندېږي چې د ښوونکي او استاد د رخصتولو پر مهال پاڅېدل جائز دي، ځکه صحابه کرامو به دا کار له نبي صلی الله علیه وسلم سره کاوه.

٩_ عَنِ الشَّعْبِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَلَقَّى جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَالْتَزَمَهُ، وَقَبَّلَ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ»(3)

ژباړه: له شعبي څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم د جعفر بن ابي طالب سره مخامخ شو، نو سینې ته یې راټینګ کړ او د سترګو په منځ کې یې ښکل کړ.

د استدلال وجه: له دې حدیث څخه څرګنده شوه چې نبي صلی الله علیه وسلم د جعفر بن ابي طالب مخې ته ورغلی او هغه ته یې غاړه ورکړې ده او غاړه د پاڅېدو پرته نه ورکول کېږي، نو دا دلیل شو چې مسافر ته پاڅېدل جائز دي.

١٠_ همدا راز دوي په هغه احادیثو استدلال کوي چې د هر چا قدر د هغوی د مرتبې سره سم کول پکار دي او د هغه نصوصو څخه چې د عزتمنو مسلمانانو د اکرام، د مشرانو، پرهېزګارو، علماوو او دیندارو د درناوي او د پوهانو، مؤمنانو او مسلمانانو ته په درنه سترګه کتلو په هکله راغلي دي، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ وَ مَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّه عِنْدَ رَبِّهٖ ﴾[دالحج سورت: ٢١آیت].

ژباړه: او څوک چې د الله عزوجل د شعائرو تعظیم وکړي، نو دا د هغه د رب په اند د ده لپاره ډېر غوره دی.

او الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَ مَنْ يُّعَظِّمْ شَعَائرَ اللهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾[دالحج سورت: ٣٢آیت].

---

(1) سنن الترمذي، ٧٦/٥، رقم: ٢٧٣٢. امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حدیث حسن غریب دی او حافظ ابن حجر هم د ترمذي تحسین (حسن ګڼل) نقل کړي دي او سکوت یې پرې کړی دی او البانی رحمه الله د مشکاة المصابیح په تعلیق (٤٦٨٢) کې ضعیف ګڼلی دی.

(2)سنن أبي داود (4/ 247، رقم: ٤٧٧٥). نووي رحمه الله وايي: د دې حدیث سند صحیح دی، راویان یې ټول په عدالت مشهور دي، یوازې هلال پکې مشهور نه دی، ځکه چې ابو داود کوم حدیثونه په خپل کتاب کې ذکر کړي او سکوت یې ترې کړی نو هغه حسن وي او دا حدیث هم د همدې په لړ کې دی. الترخيص بالقيام، ص ٤٦.

(3)سنن أبي داود (4/ 356، رقم: ٥٢٢٠). دا حدیث منذري او الباني د مرسل کېدو له امله ضعیف ګڼلی دی، خو زه وایم چې مخکني حدیثونه د دې د معنی تائید کوي.

ژباړه: او څوک چې د الله تعالی د شعائرو (د دين د نښو) تعظيم کوي، نو دا د زړونو له تقوی څخه ده.

او په حديث شريف کې راغلي دي:

**الف:** عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللَّهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ، وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ وَالْجَافِي عَنْهُ، وَإِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ»[1].

ژباړه: له ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:(د الله عزوجل دلويي پر ځای کولو څخه د سپين ږيري مسلمان، د قرآن کريم د حافظانو پدی شرط چې په قرآن کريم غلو او زياتی (افراط) نه کوي او نه يي داحکامونه سر غړونه کوي, دانصاف کوونکي بادشاه، عزت کول دي).

**ب:** عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيَعْرِفْ شَرَفَ كَبِيرِنَا»[2].

ژباړه: له عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (چا چې زموږ په کشرانو رحم او زموږ د مشرانو عزت يې ونه پيژنده، له موږ څخه نه دی).

دا او تر دې مخکې حديث کې د خلکو د مرتبو او منصبونو په پيژندلو او دهغوي په مراعاتولو ته هڅونه کوي چې دوی بايد په مجلسونو کې يو تر بل غوره کړی شي، ورته پاڅېدل وشي او داسې نور حقوق يې پر ځای شي[3].

**ج:** عن أَبِي هَاشِمٍ الرِّفَاعِي، يَقُولُ: قَامَ وَكِيعٌ لِسُفْيَانَ، فَأَنْكَرَ عَلَيْهِ قِيَامَهُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَتُنْكِرُ عَلِيَّ قِيَامِي إِلَيْكَ وَأَنْتَ حَدَّثْتَنِي عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ إِجْلَالَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ»[4].

ژباړه: له ابو هاشم رفاعي څخه روايت دی وايي: وکيع بن الجراح سفيان الثوري لپاره پاڅېده او هغه يې دا کار خوښ نه شو، نو وکيع ورته وويل: آيا ته زما پاڅېدل تا ته بد ګڼې او حال دا چې تا ما ته د عمرو بن دينار څخه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه حديث نقل کړی دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (د الله عزوجل د لويي پر ځای کولو څخه د سپين ږيري مسلمان عزت کول دي).

امام نووي رحمه الله وايي: (د دې روايتونو حاصل دا دی چې پاڅېدل د نبي صلی الله عليه وسلم له فعل څخه ثابت دي، چې هغه په خپله کړي، صحابه کرامو ته يې پرې امر کړی، د ده په وړاندې دا کار شوی هغه پرې رد نه دی کړی او ګڼ شمېر صحابه وو او سلفو په بېلابېلو اړخونو کې دا کار ترسره کړی دی او په خپلو زمانو کې د حديث، فقهې او زهد له امامانو څخه هم نقل شوی دی)[5].

---

(1) سنن أبي داود (4/ 261، رقم: ٤٨٤٣) دا حديث حافظ ابن حجر او الباني رحمهما الله حسن بللی دی.

(2)سنن الترمذي (4/ 322، رقم: ١٩٢٠)، ترمذي رحمه الله ويلي دي: دا حديث حسن صحيح دی او الباني رحمه الله هم په صحيح الجامع (٥٤٤٤) کې صحيح بللی دی.

(3) محمد أشرف بن أمير أبو عبد الرحمن شرف الحق العظيم آبادي (2007م) عون المعبود شرح سنن أبي داود ، تحقيق رائد بن صبري ابن أبي علفة, الطبعة الخامسة , الأردن, بيت الأفكار الدولية, ص ٢٠٩٥.

(4) احمد بن محمد صدر الدين ابو الطاهر السلفي الاصبهاني، (٢٠٠٤م). الطيوريات، تحقيق او څېړنه: دکتور دسمان يحيی معالي، لومړی چاپ، رياض، مکتبة اضواء السلف، ١٣٦/١. د دې سند ضعيف دی خو شواهد يې شته چې قوي کوي يې.

(5) الترخيص بالقيام، ص ٥١.

**دويم قول:** مجلس ته داخلېدونکي لپاره پاڅېدل، له ځانګړو حالتونو پرته نه دي جائز، لکه پلار ته د زوی او خاوند ته د ښځې پاڅېدل، دا د معاوية بن ابي سفيان رضـي الله عنـه څخـه نقل شـوی دی، د امام مالک قول دی،او په يو روايت کې د امـام احمد څخـه هم نقل شـوی او ابـن الحـاج المـالکي دا نظر غوره کړی دی[1].

**دوی د خپل نظر د تائيد لپاره راتلونکي دلائل ويلي دي:**

١ـ عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: «لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ»[2].

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: (دوی ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه هيڅوک ډېر محبوب نه وو، خو کله چې به يې وليده، نو ورته پاڅېدل به نه، ځکه دوی پوهېدل چې نبي صلى الله عليه وسلم دا کار نه خوښوي).

د استدلال وجه: انس بن مالک رضي الله عنه په ډاګه دا ويلي چې دوی به د نبي صلى الله عليه وسلم د ليدلو پر مهال هغه ته نه پاڅېدل، نو دا دليل دی چې د يو سړي لپاره د بل پاڅېدل مکروه دي[3].

په دې استدلال باندې له دوه لوريو نيوکې شوې دي[4]:

**لومړی:** نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپل امت باندې لـه دې ويرېدلی چې دوی بـه د خپلو مشرانو په تعظيم کې ډېر زياتی وکړي او پـه دې سره بـه پـه فتنـه کـې اختـه شي، لکـه چې پـه بل حديث کې راغلي دي: (لاَ تُطْرُونِي، كَمَا أَطْرَتْ النَّصَارَى في عيسى ابْنَ مَرْيَمَ)[5].

ژباړه: تاسې زما په صفت کې دومره زياتی (مبالغه) مه کوئ, لکه څنګه چې نصاری وو د عيسی بن مريم په اړه کړی وو.

د دې وجې نه پيغمبر صلى الله عليه وسلم هغه ته پاڅېدل مکروه ګڼلي او دا يې بد نه دي ګڼلي چې صحابه پـه خپلـو کـې يـو بـل تـه پـاڅېږي او د نبـي صلـى الله عليـه وسلـم پـه مخـامخ دوی يـو بـل تـه پاڅېدلي دي، خو هغه له دې کار څخه نـه دي منع کړي، بلکې د دوی کـار يـې پر ځـای پرېښـی او سعد بن معاذ رضي الله عنه ته يې د پاڅېدو امر کړی وو.

**دويم:** پيغمبر صلى الله عليه وسلم د خپلو ملګرو سره پوره اشنايي، دوستي او مينه درلوده، چې پـه پاڅېدو سره په دې کې زياتی نه شو راتلی، نـو ځکـه پاڅېدلو کوم هدف نـه درلـود، خـو عـام خلـک داسې نه دي، ځکه که فرض کړو چې د يو شخص نږدې ملګری وي، چې دغه حالت تـه يـې دوستي او مينه رسېدلي وي، نو بيا يې ودرېدو ته اړتيا نشته.

٢ـ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ، قَالَ: خَرَجَ مُعَاوِيَةُ، فَقَامَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ وَابْنُ صَفْوَانَ حِينَ رَأَوْهُ. فَقَالَ: اجْلِسَا، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ»[6].

---

(1) الآداب الشرعية، ٤٠٥/١؛ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني،(1407هـ) فتح الباري بشرح صحيح البخاري، تحقيق: الشيخ عبد العزيز بن باز، ومحب الدين الخطيب, الطبعة الثالثة, القاهرة, المكتبة السلفية، ٥٣/١١؛ محمد بن محمد, أبو عبد الله العبدري الفاسي, الشهير بابن الحاج،(ـــ) المدخل،(ط.ت) دار التراث, ١٨٥/١.

(2) سنن الترمذي، ٩٠/٥، رقم: ٢٧٥٤. امام ترمذي رحمه الله وايي: حسن صحيح او غريب دی. او شيخ الباني رحمه الله هم صحيح بللی دی.

(3) محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفوري (ـــ) تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي، تحقيق: عماد زكي البارودي, (ط.ت) القاهرة, المكتبة الوقفية، ٢٠٢/٧.

(4) الترخيص بالقيام، ٦٧- ٦٨.

(5) صحيح البخاري، ١٦٧/٤، رقم: ٣٤٤٥.

(6) سنن الترمذي، ٩٠/٥، رقم: ٢٧٥٥، امام ترمذي وايي: حسن دی او شيخ الباني د مشکاة په تعليق (٤٦٩٩) ګڼه کې صحيح بللی دی.

ژباړه: له ابو مجلز څخه روایت دی وایي: معاویة رضي الله عنه راووتلو، نو په لیدلو سره یې عبد الله بن الزبیر او ابن صفوان ودرېدل، نو هغه ورته وویل: دواړه کېنئ، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې ویل یې: ((څوک چې په دې خوشحالېږي چې خلک ورته په ولاړې ودرېږي نو د ځان لپاره دې په اور کې د ناستې ځای تیار کړي).
د استدلال طریقه: معاویة رضي الله عنه چې د حدیث راوي دی, له دې حدیث څخه دا فهم اخیستی چې مجلس ته داخلېدونکي ته پاڅېدل حرام دي او حاضرو صحابه وو پرې نیوکه نه ده کړې[1].
**په دې استدلال باندې له ګڼو پلوونو نیوکه شوې ده، چې ځینې یې دا دي:**
**لومړی**: په دې کې د دغه مذهب د تائید لپاره هیڅ دلیل نشته او هغه دا چې د دې حدیث څخه صراحتا داسې معلومېږي چې څوک دا خوښوي چې دا ناست وي او خلک ورته ولاړ وي، نو دا کار یې حرام او ګناه ده او په دې حدیث کې مطلق ودرېدونکي ته منع (نهي) نه ده متوجي، چې دا علماو په نیز اتفاقي مسئله ده او راتلونکي شخص ته دا نه ده روا چې د خلکو د پاڅېدو سره مینه ولري او منهي عنه هم دپاڅېدو سره محبت ښودل شوي دي او دا شرط نه ده چې دا کار به مجلس ته راتلونکي بد ګڼي او په زړه کې به یې د دې ناروا والی کرکه راځي، آن تر دې که خلک ورته پاڅېدل او د ده په زړه کې دا رانغلل چې خلک دې ورته پاڅېږي، نو بیا دا ملامته نه دی[2].
امام نووي رحمه الله ویلي دي: (هر کله چې د حدیث معنی همدا ده چې موږ یاده کړه، نو بیا د پاڅېدو سره مینه لرل حرام دي، که دا خوښوي چې خلک ورته ودرېږي، نو دا ناروا ده که خلک ورته ودرېږي او که نه، ځکه د حراموالي مدار خوښول دي او د پاڅېدونکي پاڅېدل پر دې کوم اغېز نه لري او د ده په حق کې منع هم نه ده وارد، نو ځکه پر دې حدیث دلیل نیول ناسم دي)[3].
**دویم**: ابن قتیبة رحمه الله وایي : د دې حدیث (من أحب أن یتمثل له الرجال) معنی دا ده چې: (څوک دا غواړي چې د عجمو د بادشاهانو په څېر دې خلک د ده سر ته ولاړ وي او دا معنی یې نه ده چې څوک د سلام کولو پر مهال خپل مسلمان ورور ته پاڅېږي)[4].
**دریم**: امام خطابي او بغوي رحمهما الله ویلي دي :(دا حدیث د هغه چا په اړه دی چې پر دې باندې امر کوي او خلکو باندې دا لازموي چې ده ته په صفونو کې ودرېږي او دا کار یې د کبر او غرور لپاره وي)[5].
٤_ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ،رضي الله عنه, قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَكِّئًا عَلَى عَصًا فَقُمْنَا إِلَيْهِ فَقَالَ: «لَا تَقُومُوا كَمَا تَقُومُ الْأَعَاجِمُ، يُعَظِّمُ بَعْضُهَم بَعْضًا»[6].
ژباړه: له ابو امامة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په امسا باندې د تکیه په حالت کې راووتلو، موږ ورته پاڅېدو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم, وفرمایل: تاسې داسې مه ودرېږئ لکه عجمیان چې ودرېږي او یو د بل تعظیم کوي)).
د استدلال طریقه : نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل ملګري(صحابه) له دې څخه منع کړي, چې هغه ته د تعظیم لپاره ودرېږي او داسې کار وکړي لکه عجمیان چې یې له خپلو مشرانو سره کوي.
له دې استدلال څخه دوه ځوابونه کېږي:
**لومړی**: دا یو ضعیف حدیث دی ، چې استدلال پرې صحیح نه دی، ابو موسی اصفهاني او طبري وایي: دا یو مضطرب حدیث دی او راویان یې مجهول دي. امام نووي ویلي دي: د دې حدیث د راویانو د جهالت علت سره د دې اضطراب علت هم مل کېږي، چې یوازې یو علت هم د حدیث

(1) احکام السلام، ص ٩.
(2) الترخیص بالقیام، ص ٦٨- ٦٩
(3) هماغه، ص ٦٩.
(4) فتح الباري، ٥٢/١١.
(5)الترخیص بالقیام، ص ٧١.
(6) سنن ابي داود، ٣٥٨/٤، رقم: ٥٢٣٠. دا حدیث شیخ الباني په ضعیف الجامع (٦٢٦٢) رقم کې ضعیف بللی دی.

په کمزوري کولو کې پوره دی، نو چې دواړه یو ځای شي بیا خو به یې حال تر دې هم ډېر بدتر وي[1].
**دویم**: دا حدیث پخپله د دې او دېته ورته نورو حدیثونو مقصد څرګندوي، چې په دې احادیثو کې د هغه چا بدي بیان شوې چې دا کار د تعظیم په موخه کوي، پر همدې اساس پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې تاسې د عجمو په څېر خپلو مشرانو ته مه ودرېږئ او د دې کار په ناروا کېدو کې هیڅ شک نشته[2].
٥_ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَقُومُ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ مِنْ مَجْلِسِهِ»[3].
ژباړه: له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (یو سړی دې له خپل مجلس څخه د بل لپاره نه پاڅېږي).
د استدلال طریقه : دا حدیث پر دې ښکاره دلیل دی چې د خپل ځای ناستي څخه د یو سړي پاڅېدل د بل لپاره ناروا دي.
له دې استدلال څخه دوه ځوابونه کېدلای شي:
لومړی: دا حدیث پخپله خپل مقصد روښانه کوي او هغه دا چې یو شخص د خپل ځای څخه د دې لپاره پاڅېږي چې بل پکې کېنوي نو دا ناروا ده او د دې حدیث په آخر کې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((...وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا)) البته تاسې مجلس پراخه کړئ او له خپلو ځایونو وښورېږئ. او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهماپه حدیث کې دا په صراحت سره داسې بیان شوي دي: : « نَهَى أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ آخَرُ، وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا»[4].
ژباړه: نبي صلی الله علیه وسلم له دې څخه منع کړې چې یو شخص د خپل ځای ناستي څخه پاڅولي شي، تر څو بل پکې کېني، بلکې تاسي مجلس پراخه کړئ او ورته وخوځېږئ.
دویم: امام نووي رحمه الله ویلي دي: (دا حدیث د یوې بلې معنی احتمال هم لري او هغه دا چې ته د لمونځ, وعظ, تذکیر، علم او داسې نورو مجلسونو څخه مه پاڅېږه، ځکه دا مکروه ده چې داسې ځایونه بل ته پرېښودل شي او دا هم مکروه ده چې خپل ځای پرېږدې او له امام څخه لرې ځای ته انتقال شي، همدا راز د دې په څېر نور نېک کارونه هم دي چې په دې کې نور تر ځان مخکې کول مکروه دي، البته په خوراک، څښاک او نورو کې ایثار (نور تر ځان مخکې کول) بیا د نېکانو نښه او غوره عمل دی چې په اړه یې د الله عز وجل دا قول نازل شوی دی[5]: ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾[دالحشر سورت: ١٠آیت].
ژباړه: او که دوی وږي هم وي نور تر ځان غوره کوي (مخکې کوي یې).
**غوره قول**
د دواړو قولونو او د هغوي د دلائلو تر ذکر کولو وروسته ما ته دا ښکاره شوې چې لومړی قول غوره دی، ځکه چې راتلونکي ته پاڅېدل دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه په درېو طریقو - قول، فعل، او تقریر- سره ثابت دي،رسول صلی الله علیه وسلم سعد بن معاذ رضی الله عنه ته دپاڅېدو امر وکړو ،خپله دثقیف قبیلی وفد(پلاوی) ته پاڅېدلي وو[6]،او صحابه کرام په خپلو کې د نبي صلی

(1) الترخیص بالقیام، ص ٧٢؛ فتح الباري، ٥٢/١١.
(2)الترخیص بالقیام، ص ٧٢.
(3) احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد ابو عبد الله الشیباني، (١٤٢١هـ).المسند, تحقیق: شعیب ارنووط او نور. لومړی چاپ، بیروت، مؤسسة الرسالة، ١٨٦/١٦، رقم:( ١٠٢٦٦). شعیب ارنووط ویلي دي: داحدیث صحیح لغیره دی او دا سند یې حسن دی.
(4) صحیح البخاري، ٦١/٨، رقم: ٦٢٧٠.
(5) الترخیص بالقیام، ص ٧٢.
(6) صحیح البخاري ٧/ ٤٢٧، نمبر(٤٣١٩) .

الله علیه وسلم په مخامخ یو بل ته پاڅیدلي دي، خو هغه له دي کار څخه منع کړي نه دي، نو مجلس ته داخلېدونکي ته د نېکی، او اکرام لپاره پاڅېدل جائز دي او د تعظیم او تکبر په نیت ورته پاڅېدل ناروا دي[1].

په دی هکله امام نووي رحمه الله په خپل کتاب (الاذکار) کې ویلي دي: ((وأما إكرام الداخل بالقيام، فالذي نختاره أنه مستحبّ لمن كان فيه فضيلة ظاهرة من علم أو صلاح أو شرف أو ولاية، أو له ولادة, أو رحم مع سنّ، ونحو ذلك، ويكون هذا القيام للبِرّ والإكرام والاحترام لا للرياء والإعظام، وعلى هذا الذي اخترناه استمرّ عمل السلف والخلف، وقد جمعت في ذلك جزءاً جمعت فيه الأحاديث والآثار وأقوال السلف وأفعالهم الدّالة على ما ذكرته))[2].

ژباړه: او مجلس ته داخلېدونکي ته په پاڅېدلو سره د هغه دعزت اواکرام په اړه موږ دا خوښوو چې دا کار مستحب دی او بیا لـه هغه چا لپاره چې د علم، صلاح، شرافت او ولایت پر اساس ښکاره فضیلت لري او یا یې زوی او خپلوان وي چې ترې مشر وي او یا داسې نور، نو دوی ته پاڅېدل جائز دي او دا ودرېدل به د اکرام او احترام لپاره وي، نه د ریاء او لویی لپاره او پر همدې نظر چې موږ غوره کړی دی د سلفو او خلفو عمل جاري دی او ما په دې کې ډېر احادیث، آثار او د سلفو افعال نقل کړي, چې پر دې دلالت کوي.

**پایله:**

د دې څېړنې څخه دا نتیجه په لاس راځي چې مجلس ته داخلېدونکي ته پاڅېدل څلور ډولونه لري:

**لومړی**: مستحب پاڅېدل، چې د سفر څخه راتلونکي ته پاڅېږي، چې د هغه په راتلو خوشحاله وي او سلام ورته وکړي، یا داسې شخص ته پاڅېږي چې نوي خوشحالي ورباندې راغلي وي او هغه ته یې له امله مبارکي ورکړي او یا ورباندې مصیبت راغلی وي چې دا ورسره خواخوږي وکړي، همدا راز که راتلونکی د علم، نېکۍ، پرهېزګاری او ولایت لـه املـه د ښکاره فضیلت لرونکی وي او یا نور...

**دویم**: جائز پاڅېدل، چې د نېکۍ او اکرام په موخه هغه چا ته کېږي چې د پاڅېدو غوښتنه نـه لري او په دې کار سره د جبابره وو او مغرورو خلکو سره د مشابهت وېره هم نه وي.

**دریم**: مکروه پاڅېدل، چې هغه چا ته پاڅېدل وشي چې تکبر نـه کوي او نـه پـه ولاړو خلکو باندې ځان لوی ګڼي او له دې څخه ویرېږي چې په زړه کې به یې په دې سره تکبر راشي.

**څلورم**: ناروا پاڅېدل، او هغه دا چې څوک د تکبر لـه املـه د پاڅېدو غوښتنه کوي او پر ولاړو خلکو ځان لوی ګڼي.

**مناقشه**

راتلونکي شخص ته پاڅېدل هغه پاڅېدل نه دي چې په احادیثو کې ترې منع شوې ده او په ځانګړي ډول پـه دې حدیث کـې چـې نبـيِ کـریم صـلى الله علیـه وسلم فرمـایلي دي: ((مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ)) ځکه د دې معنی دا ده چې دوی ورته ولاړ وي او هغه ناست وي او دا ودرېدل ترې نه دي هدف چې د هغه د راتلو لـه املـه دوی پاڅېږي،او یا هغه تـه دسـتړی مشي لپاره ودرېږي، پر همدې اساس لغت پوهان د (قمت إليه) او (قمت له) تر منځ توپیر کوي او راتلونکي شخص تـه پـه پاڅېدو سره ودرېدونکی د هغه سره پـه ودرېدو کـې یو شان کېږي، خو ناست شخص ته ودرېدل بیا داسې نه دي او په صحیح مسلم کې ثابت دي چې نبي صلى الله علیه وسلم کله صحابه وو ته په ناسته لمونځ کاوه، چې هغوی ولاړ وو، نو هغوی تـه یـې هم د کېناستو

---

(1) محمد بن صالح بن العثيمن(1433هـ) شرح رياض الصالحين, يولسم چاپ، رياض، سعودى عرب،مدار الوطن للنشر، ١/ ١٥٦.

(2) يحيى بن شرف, محيي الدين أبو زكريا النووي(1994م).الأذكار, تحقيق: عبد القادر الأرناوط،(ط,ت) بيروت, لبنان, دار الفكر، ٣٤٢/١.

امر وکړ او ویې ویل: ((لا تعظموني کما یعظم الاعاجم بعضهم بعضا)) تاسي زما داسي تعظیم مه کوئ لکه عجم چې یې یو د بل کوي. او نبي صلی الله علیه وسلم دوی په لمونځ کې هم د ودرېدلو څخه منع کړل، کله چې هغه ناست وو، تر څو د عجمو سره مشابهت رانه شي، چې هغوی خپلو ناستو مشرانو ته ولاړ وي او د دې ټول بحث هدف دا دی چې په دې برخه کې د سلفو د خويونو، اخلاقو او منهج پیروي وشي.

**وړاندیزونه:**

۱_ کله چې یوه مسئله اختلافي وي چې دواړو لوریو ته پکې دلائل موجود وي او حق پکې د لمر په څېر روښانه نه وي، نو طالب العلم او څېړونکی باید د خپل اجتهاد سره سم نظر وړاندې کړي، د مقابل لوري د دلائلو ځوابونه ولیکي او پر همدې اندازه بسنه وکړي، څکه که د مخالف لوري کړنه رد کړي، نو مسئله به د دوی تر منځ تاو راتاو شي او مسلمانان به د ډېرو مهمو مسائلو څخه په دې سره رابند شي.

۲_ کله چې مخامخ کېدل بیا بیا وي، نو بیا پاڅېدل باید ونه شي، همدا راز هغه مخامخ کېدل چې په دولتي ادارو او نورو کې هره ورځ رامنځته کېږي، نو په دې صورت کې باید د پاڅېدو څخه ځان وساتل شي، تر څو د حدیثونو په پوره مفهوم باندې عمل وشي.

۳_ مسلمانان باید د مجلسونو آداب زده او عملي کړي، تر څو زموږ ټول ژوند د اسلامي شریعت سره برابر تېر شي.

**ماخذونه**


قرآن کریم.

1. أحمد بن علي بن حجر العسقلاني،(1407هـ) فتح الباري بشرح صحیح البخاري، تحقیق: الشیخ عبد العزیز بن باز، ومحب الدین الخطیب, الطبعة الثالثة, القاهرة, المکتبة السلفیة.
2. احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد ابو عبد الله الشیباني، (۱٤۲۱هـ)المسند، تحقیق: شعیب الارنووط او نور. لومړی چاپ، بیروت، مؤسسة الرسالة.
3. احمد بن محمد, صدر الدین, ابو الطاهر السلفي الاصبهاني، (۲۰۰٤م). الطیوریات، تحقیق او څېړنه: دکتور دسمان یحیی معالي، لومړی چاپ، ریاض، مکتبة اضواء السلف .
4. حمد بن محمد الخطابي، (۱۹۳۲). معالم السنن، لومړی چاپ، حلب، المطبعة العلمیة،
5. سلیمان بن الاشعث بن شداد الازدي السجستاني، (___). سنن ابي داود، تحقیق: محمد محیي الدین عبدالحمید، صیدا بیروت، المکتبة العصریة.
6. عبدالسلام بن برجس آل عبدالکریم، (ـــ). أحکام السلام، مکتبة الشاملة، ص ٦-۹.
7. مالک بن انس بن مالک بن عامر الاصبحي المدني، (۱٤۰٦هـ). موطا الامام مالک، تحقیق: محمد فؤاد عبدالباقي، بیروت، دار إحیاء التراث العربي.
8. محمد أشرف بن أمیر, أبو عبد الرحمن شرف الحق العظیم آبادي (2007م) عون المعبود شرح سنن أبي داود ، تحقیق رائد بن صبري ابن أبي علفة, الطبعة الخامسة, الأردن, بیت الأفکار الدولیة.
9. محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة الجعفي البخاري، (۱٤۲۲هـ). صحیح البخاري، لومړی چاپ، ریاض، دار طوق النجاة .
10. محمد الأمین بن المختار الشنقیطي (ـــ) مذکرة أصول الفقه،(د،ط) بیروت، لبنان, دار القلم.
11. محمد بن صالح بن العثیمن(1433هـ) شرح ریاض الصالحین, یولسم چاپ، ریاض، سعودی عرب،مدار الوطن للنشر، ۱/ ۱٥٦.
12. محمد عبد الرحمن بن عبد الرحیم المبارکفوري (ـــ) تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي، تحقیق: عماد زکي البارودي, القاهرة, المکتبة الوقفیة.

13. محمد بن عيسى بن سورة ابو عيسى الترمذي، (١٣٩٥هـ). سنن الترمذي، تحقيق: احمد محمد شاكر او نور، دويم چاپ، مصر، مطبعة مصطفى الحلبي.
14. محمد بن محمد, أبو عبد الله العبدري الفاسي, الشهير بابن الحاج،(ـــ) المدخل،(ط,ت) دار التراث.
15. محمد بن مفلح شمس الدين ابو عبد الله المقدسي الحنبلي، (٢٠٠٩م). الآداب الشرعية والمنح المرعية، دريم چاپ، كويت، دار احياء التراث العربي.
16. محمد ناصر الدين,الألباني (ـــ) صحيح الجامع الصغير وزياداته، بيروت، المكتب الإسلامي.
17. محمد ناصر الدين,الألباني (ـــ) ضعيف الجامع الصغير وزياداته، بيروت، المكتب الإسلامي.
18. يحيى بن شرف بن مري محيي الدين ابو زكريا النووي، (١٩٨٢م). الترخيص بالقيام لذوي الفضل والمزية من اهل الاسلام، تحقيق: احمد راتب حموش، لومړی چاپ، دمشق, دار الفكر،
19. يحيى بن شرف, محيي الدين أبو زكريا النووي(١994م).الأذكار, تحقيق: عبد القادر الأرناوط، بيروت, لبنان, دارالفكر،

**الأستاذ المساعد الدكتور محمد بلال امين**
**قسم الثقافة الإسلامية، كلية الشريعة ، جامعة ننجرهار**

## حكم القيام للداخل إلى المجلس

**خلاصة المقال:**

مسألة القيام للداخل إلى المجلس, قد وردت فيها عدة أحاديث مختلفة, واختلفت الأفهام في مدلول نصوصها, ولذا كثر النزاع فيها وطال الجدال حولها قديما وحديثا، ولخصت الأقوال والاختلاف فيها إلى قولين: فذهب جمهور العلماء إلى جواز القيام للداخل إلى المجلس، بل استحب بعضهم ذلك في بعض الأحوال, واستدلوا على ذلك بالسنة المطهرة، وعمل الصحابة والسلف رضي الله عنهم.

وذهب الآخرون إلى عدم جواز القيام للداخل، واستدلوا لذلك كذلك بالسنة المطهرة، وعمل الصحابة رضي الله عنهم, وبعد ذكر القولين وأدلتهما ظهر لنا أن الراجح – والعلم عند الله – هو ما ذهب إليه جمهور العلماء من جواز القيام للداخل، وأن أدلة قول الثاني في النهي عن القيام محمولة على أن يقوموا له وهو جالس, وليس أن يقوموا لمجيئه إذا جاء, وفي العموم يقال أن القيام للداخل إلى المجلس على أربعة أقسام:

**الأول:** مندوب إليه, وهو أن يقوم لمن قدم من السفر فرحا بقدومه ليسلم عليه, أو إلى من تجددت له نعمة فيهنئه بحصولها, أو مصيبة فيعزيه بسببها, وكذلك إذا كان القادم له فضيلة ظاهرة من علم أو صلاح أو شرف أو ولاية ونحو ذلك.

**الثاني:** أن جائز, وهو أن يقع على سبيل البر والإكرام لمن لا يريد ذلك, ويؤمن معه التشبه بالجبابرة

**الثالث:**مكروه وهو أن يقع لمن لا يتكبر ولا يتعاظم على القائمين, ولكن يخشى أن يدخل نفسه بسبب ذلك ما يحذر .

**الرابع:** محظور, وهو أن يقع لمن يريد أن يقام إليه تكبرا وتعاظما على القائمين .

**الكلمات الرئيسية :** القيام, المجلس, الداخل, الحديث, المستحب, الجواز، المحظور, التعظيم.